


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه

ابادي

هفته نامه آبادی

گڼه: ۳۸ | مسلسل نمبر: ۱۲۸

پنجشنبه، د رجب المرجب ۴مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال: نړۍ دې د تحريمونو او فشارونو پرځای له اسلامي امارت سره اقتصادي اړيکې پراخې کړي



۲ صفحه

## د جوزجان ولايت قوش‌تېپې او درزاب ولسواليو ته د برېښنا رسوني پروژې تړون لاسليک شو



۲مه صفحه

## سړې خونې؛ د اقتصاد او بزگرانو اړتيا



۴مه صفحه



## سرليکنه

افغانستان د خپل ځانگړي جغرافيوي موقعيت په برکت د تاريخ په اوږدو کې د نړۍ د مختلفو مدنيتونو د وصل مرکز پاتې شوی. سلگونه کاله وړاندې لرغونی افغانستان د لوېديځ او ختيځ ترمنځ د سوداگرۍ، کرنې، ټولنيزو فعاليتونو او کډوالۍ يو مهم مسير و، دا مسير د ورېښمو د لارې په نوم يادېده او افغانستان د دې لارې د تقاطع مرکز و. اوس يو ځل بيا افغانستان د همداسې اتصال د يوه مرکز او د اسيا په زړه د بدليدو په حال کې دی. ايران غواړي چې د افغانستان د واخان دهليز له لارې د ريل پټلۍ په وسيله له چين سره ځان ونښلوي. د ايران د ريل پټلۍ ادارې اجراييوي رئيس ويلي، چې يوه نوې ستراتيژيکه لاره له چين سره د ايران د نښلولو لپاره په کاري اجنډا کې لري. نوموړي ويلي، چې دا لاره به له هرات ولايت څخه مزار شريف ته وغځېږي او بيا به د واخان دهلېز له لارې له چين سره وصل شي. دا د اوسپنې پټلۍ يوه ستره پروژه ده چې د ايران ترڅنگ د افغانستان د سوداگرۍ او اقتصادي پرمختگ له پاره حياتي ارزښت لري. د دې پروژې په بشپړېدو سره به نه يوازې دا چې افغانستان ترانزيټي فيس ترلاسه کړي، بلکې خپل سوداگريز توکي به په کمه بيه، لنډ وخت او چټکه توگه تر نړيوالو بازارونو پورې ورسوي. له بلې خوا، دا پروژه د سيمې د هېوادونو ترمنځ د باور جوړونې يو مهم گام بلل کېدای شي. دا چې هېوادونه د سياسي شخړو پر ځای پر گډو اقتصادي پروژو تمرکز وکړي، نو د ثبات او دوامدارې سولې بنسټونه ټينگېږي. ايران او چين، چې دواړه د سيمه‌ييزې سوداگرۍ او ترانزيټ په برخه کې تجربه لري او وکولای شي افغانستان د دې سترې پروژې فعال شريک کړي، نو دا به د مرکزي او جنوبي اسيا ترمنځ د اتصال په مرکز د افغانستان د بدلېدو خبره له نظري بحث څخه عملي پړاو ته ورسوي. په دې پړاو کې بيا افغانستان کولای شي له يوه مصرفي بازار څخه ووځي او پر يوه ترانزيټي، لوژيستکي او توليدي مرکز بدل شي. که څه هم واخان لا تر اوسه د تگ را تگ له پاره نه دی اماده شوی، خو د تاريخ په اوږدو کې د ختيځې، سويلي او مرکزي آسيا هېوادونو د وگړو له خوا د سوداگريزې لارې په توگه کارول کېده. د سوداگرۍ او سيمه ييز اتصال له پلوه دغه دهليز د سيمې او منطقې د هېوادونو لپاره ځانگړی اهميت لري او اوس دا دی يو ځل بيا د نړيوالې سوداگرۍ له پاره د ډېره هېوادونو د پام وړ گرځيدلی دی. دا دهليز نه يوازې دا چې افغانستان له چين سره نښلوي بلکې له دې لارې افغانستان کولای شي د ختيځې اسيا بازارونو ته هم مستقيم لاسرسی پيدا کړي. اسلامي امارت د واخان دهليز اهميت ته په کتو د دې لارې د جوړېدو له پاره مټې راونغښتې او اوس يې کارونه هم تقريبا اويا سلنه بشپړ شوي دي. همدا چاره د دې لامل شوه چې د گاونډيو هېوادونو لکه ايران پام ځانته راواړوي او دا دی اوس همدا هېواد د افغانستان د واخان دهليز له لارې د اوسپنې پټلۍ په وسيله غواړي له چين سره ځان ونښلوي. د اوسپنې پټلۍ د دې سترې پروژې په عملي کېدو سره به افغانستان ته يو ځل بيا د خپل اقتصاد د پياوړتيا، د سيمه ييزو همکاريو د پراختيا او د سوداگرۍ د غوړېدو او پرمختگ چانس په لاس ورشي. په دې سره به افغانستان يو ځل بيا خپل پخوانی برم ترلاسه او له اقتصادي او سياسي پلوه به په سيمه کې خپل موقف پيدا کړي.

# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال: نړۍ دې د تحريمونو او فشارونو پرځای له اسلامي امارت سره اقتصادي اړيکې پراخې کړي

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند شنبه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د قوس په ۲۹ مه نيټه په بلخ ولايت کې د يوه سوداګريز مارکيټ د کار د پيل په مراسمو کې د خبرو پرمهال د سيمې او نړۍ له هېوادونو وغوښتل چې د تحريمونو او بې ځايه فشارونو پرځای دې له اسلامي امارت سره اقتصادي اړيکې نرمې او پراخې کړي. نوموړي زياته کړه چې په سيمه کې يو هوسا او پياوړی افغانستان د نورو هېوادونو په زيان نه دی؛ بلکې د نورو هېوادونو له هوسايني او پياوړتيا سره مرسته کوي.



محترم حاجی ملا صاحب وويل: «اسلامي امارت د سيمه ييز او نړيوال مشارکت په برخه کې په هر اړخيز اقتصادي او سياسي اصالت باور لري؛ مګر دا چې لوی ارزښتونو او اصولو ته متقابل احترام موجود وي.»

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه د عامه او خصوصي مشارکت او يا نورو قراردادونو له مخې د خصوصي سکټور سره د سترو اوږدمهاله پروژو په برخه کې د اسلامي امارت تعامل د دې واضح پيغام ورکوي چې په افغانستان کې د داخلي او بهرنی پانګونې لپاره زمينه مساعده ده او هر څوک کولی شي چې له دې فرصت څخه ګټه واخلي.

په مزارشريف کې دا اته پوړيز سوداګريز مارکېټ چې د ۷۴۳ ميليونه افغانۍ په پانګونه د ارشاد، حج او اوقاف وزارت په ۶۰۰ متره مربع ځمکه جوړيږي، ۸۷۰ دوکانونه، څلور رستورانتونه، يو مېلمستون، جومات او پارګېنګ يکې په پام کې نيول شوي دي. د دغه مارکېټ ساختماني چارې به په دوو کلونو کې بشپړې او هر کال به د امارت خزانې ته ۴۳ ميليونه افغانۍ د کلنی اجارې په توګه ورکول کېږي.

# د جوزجان ولايت قوش‌تېپې او درزاب ولسواليو ته د برېښنا رسوني پروژې تړون لاسليک شو




د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د مرغومي مياشتې په دوهمه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د اوبو او انرژۍ وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ د جوزجان ولايت قوش‌تېپې او درزاب ولسواليو ته د برېښنا رسوني پروژې تړون لاسليک شو.

پر دغه پروژه شاوخوا يو ميليارد او ۸۸۶ ميليونه افغانۍ لګښت راځي، چې چارې به يې په دريو کلونو کې بشپړې شي. په دې پروژه کې د ۸۵.۲۴ کيلومترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کيلوولټ برېښنا مزي غځول، په قوش تېپې او درزاب ولسواليو کې د دوه سب سټېشنونو او دوه توزيعي شبکو جوړول شامل دي، چې د چارو په بشپړېدو سره به يې زرګونه کورنۍ له برېښنا برخمنې شي.



# اخبار اقتصادی هفته

## همایش تواصل تجاری کابل-بیشکک؛ افزایش صادرات و سرمایه‌گذاری در دستور کار

همایش تواصل تجاری میان سکتور خصوصی افغانستان و قرغیزستان از سوی اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان برگزار شد. وزیر صنعت‌وتجارت امارت‌اسلامی‌افغانستان، هدف اصلی این همایش را شناسایی فرصت‌ها، بررسی چالش‌ها و اقدام عملی برای حل آن‌ها عنوان کرد. نورالدین عزیزی در این برنامه هم‌چنان از ایجاد اتاق تجارت قرغیزستان در کابل خبر داد و افزود که افغانستان نیز در نظر دارد اتاق تجارت خود را در بیشکک بازگشایی کند. آقای عزیزی تصریح کرد که: « افغانستان و قرغیزستان دو کشور پیوسته به یک‌دیگر اند؛ یکی دارای موقعیت استراتیژیک در قلب اتصال جنوب و غرب آسیا و دیگری دروازه ورود به آسیای مرکزی و بازارهای اتحادیه اقتصادی اوراسیا است. این مکمل‌بودن، زمینه‌های بی‌نظیری را برای توسعه همکاری‌ها فراهم کرده است.» هم‌زمان وزیر اقتصاد وتجارت قرغیزستان از افزایش میزان تجارت میان کابل و بیشکک سخن زده و افزوده که کشورش علاقه‌مند گسترش صادرات محصولات غذایی، صنعتی، پارچه‌بافی، مواد ساختمانی و سایر کالاهای مورد نیاز بازار افغانستان است. در این همایش، قراردادهایی به ارزش ۱۵۷ میلیون دالر امریکایی میان ۱۰ شرکت در بخش‌های سمنت، میوه‌ی تازه، سبزیجات، دارو، پشتیبانی فنی، ترانزیت، مخابرات و کمره‌های امنیتی به امضا رسید. رییس اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان نیز از فرصت‌های موجود سرمایه‌گذاری در کشور سخن گفت و افزود که این اتاق تلاش می‌کند تا میان سکتور خصوصی دو کشور گام‌های اساسی و پای‌دار برداشته شود.

## افتتاح سردخانه و کارخانه‌ی پروسس میوه در میدان‌وردک

کار ساخت یک سردخانه و یک کارخانه‌ی پروسس میوه‌های تازه از سوی سکتور خصوصی در مرکز ولایت میدان‌وردک تکمیل شد. در ساخت این سردخانه و شرکت پروسس میوه های تازه، یک میلیون دالر هزینه شده است که ظرفیت نگه داری نزدیک به دو هزار متریک تُن محصولات زراعتی را دارد. مقام‌های محلی این اقدام را در رشد اقتصاد محلی، جلوگیری از ضایع‌شدن محصولات زراعتی و پشتیبانی از دهاقین مؤثر می‌دانند. خیرالله خیرخواه، والی میدان‌وردک، گفت: «اگر میوه‌های خود را به‌گونه‌ی درست نگه‌داری کنیم و تا پایان سال از آن استفاده کنیم، به خودکفایی خواهیم رسید. سود آن هم به دهقان می‌رسد، هم به مالک زمین و هم به صاحب سردخانه.» شفیق‌الله رستم‌خیل، سرمایه‌گذار، گفت: «ما بر این سردخانه یک میلیون دالر سرمایه‌گذاری کرده‌ایم و این پروژه بر زمینی به مساحت سه جریب و هفت بسوه ساخته شده است.» مسوولان محلی همچنین از تلاش ها برای جذب سرمایه‌گذاری بیشتر در بخش ساخت سردخانه ها و کارخانه‌های پروسس میوه‌های تازه خبر می‌دهند. همه ساله صدها هزار تُن میوه‌ی تازه در میدان‌وردک تولید می شود؛ اما کمبود سردخانه‌ها یکی از چالش‌های جدی پیش روی باغداران این ولایت است که بارها آنان را با زیان‌های سنگین مالی روبه‌رو کرده است.

## پیشرفت ۷۰ درصدی کار پروژه‌ی واخان

وزارت احیا و انکشاف دهات می‌گوید که کار جغل اندازی پروژه ی دهلیز واخان، با طول ۱۲۰ کیلومتر، تا اکنون ۷۰ درصد پیشرفت داشته است. به گفته‌ی این وزارت، تلاش می‌شود کار جغل‌اندازی این پروژه تا پایان سال آینده‌ی خورشیدی تکمیل شود و پس از آن، کارهای اساسی آن آغاز خواهد شد. مسؤلین وزارت احیا و انکشاف دهات، در این باره گفت: «پروژه واخان بدخشان تا سرحد چین به طول ۱۲۰ کیلومتر که از سوی این وزارت آغاز شده بود، در دو فاز تطبیق می‌شود که کار آن



الحمدالله ۷۰ درصد پیشرفت کرده است.» به گفته مسؤلین این وزارت که با تکمیل این پروژه، سهولت‌های قابل توجهی برای تاجران کشور فراهم خواهد شد و دهلیز واخان دارای مزیت‌های اقتصادی دوجانبه برای افغانستان و چین است. به گفته‌ی مسؤلین، سفیر چین نیز پیش‌تر پافشاری کرده که این پروژه برای هر دو کشور از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است. مسؤلین این وزارت گفت، پس از این‌که کار این پروژه به‌گونه جغل‌اندازی بازسازی شد، بعد از آن کارهای اساسی آن آغاز خواهد شد که با تکمیل آن، کشور به خودکفایی نزدیک خواهد شد. عبدالنصیر رشتیا، آگاه اقتصادی، در این باره گفت:«دهلیز واخان از دهلیزهای استراتژیک به شمار می‌رود و در صورتی که ما بتوانیم از این دهلیز استفاده کنیم و به بازارهای چین دسترسی پیدا کنیم، شاهد تحول بزرگ اقتصادی در کشور خواهیم بود.» گفتنی‌ست که پس از توقف تجارت میان کابل و اسلام‌آباد، پروژه‌ی دهلیز اقتصادی واخان می‌تواند به‌عنوان یک بدیل مهم تجارتی با پاکستان، نقش موثری در توسعه اقتصاد کشور داشته باشد.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباډي
هفته‌نامه آبادی

## پرواز مستقیم کابل-تهران؛ شرکت هوایی وارش فعالیت خود را آغاز می‌کند

در ادامه‌ی آغاز فعالیت شرکت‌های هوایی خارجی در افغانستان، این‌بار یک شرکت‌هوایی ایرانی به نام "وارش" در نظر دارد پروازهای خود را میان کابل و تهران آغاز کند. به گفته‌ی وزارت ترانسپورت‌وهوانوردی‌ملکی، این چهارمین شرکت هوایی ایرانی‌ست که فعالیت خود را در افغانستان آغاز می‌کند. این وزارت می‌افزاید که در حال حاضر، علاوه بر دو شرکت هوایی داخلی، ۹ شرکت هوایی خارجی نیز در بخش هوانوردی کشور فعالیت دارند. در همین حال، مسؤلان شرکت‌هواییِ‌وارش هدف از آغاز فعالیت در افغانستان را ایجاد سهولت برای شهروندان و گسترش هم‌کاری‌های منطقه‌ی عنوان می‌کنند. محمدنبی افغان، آگاه اقتصادی، در این باره افزود: « مسیرهای هوایی کشور باید گسترش یابد و رفت‌وآمد با همه کشورها به‌گونه مستقیم انجام شود، زیرا در حال حاضر بخش زیادی از هزینه‌ها از رهگذر ترانزیت پرداخت می‌شود. نبود پروازهای مستقیم با بسیاری از کشورها سبب ضایع وقت و هم مصرف‌های گزاف می شود.» وزارت ترانسپورت‌وهوانوردی تاکید می‌کند که تلاش‌ها برای فراهم کردن سهولت‌های بیش‌تر برای فعالیت شرکت‌های هوایی دیگر کشورها نیز ادامه دارد.



# سړې خونې
## د اقتصاد او بزګرانو اړتيا

قيس احمد

### سریزه

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې ډېری وګړي یې پر کرنه او مالداری مصروف دي. د دغه هېواد د کرنیزو محصولاتو د راټولېدو او اوج ته د رسېدو وخت اوړي او منې موسمونه دي. په دې وخت کې تر ډېره تازه مېوې، سبزیجات او کرنیز محصولات راټولېږي. خو دا چې په هېواد کې سړې خونې موجودې نه دي، نو ژر دغه محصولات یا فاسد شي او یا هم په ډېره ناچیزه بیه پلورل کېږي. په دې سره د یو بزګر د کال کړې خواري تقریباً په اوبو لاهو کېږي او د هغه هېڅ درد نه دوا کوي. دې چارې نه یوازې بزګرانو ته له اندازې زیات تاوان رسولی، بلکې په ورته وخت کې یې د هېواد اقتصاد هم ځپلی.

دا ستونزه له ډېره وخته موجوده ده، چې هېڅ حکومت یې د حل غم ونه کړ. له کله چې اسلامي امارت واک ته ورسېد، دې ستونزې ته یې حل لاره پیدا کړه. اسلامي امارت له کورنی بودیجې، د خصوصي سکتور د پانګونې له لارې او له یوشمیر هېوادونو سره په ګډه د هېواد په مختلفو سیمو کې د سړو خونو جوړولو لړۍ پیل کړې ده. دغه پروسه اوسمهال په بنه ډول روانه ده، چې دلته پرې لنډې خبرې کوو.

### د سړو خونو ارزښت او اړتیا

د مؤثرو اقتصادي اغېزو له امله په دې وروستیو کلونو کې د سړو خونو جوړولو په ټولو هېوادونو کې ډېر ارزښت پیدا کړی دی. له دې خونو څخه د مختلفو توکو لکه درملو، خوراکي توکو او کرنیزو محصولاتو د ساتنې لپاره استفاده کېږي، چې مهم هغه یې کرنیز محصولات دي. که بزګران او باغداران خپل محصولات په سړو خونو کې وساتي، د محصول د ساتنې موده اوږده او د ضایعاتو کچه کمېږي. که کرنیز محصولات په مناسب ډول ونه ساتل شي، ژر فاسد او د کار وړ نه پاتې کېږي. په دې حالت کې بزګران او باغداران اړ کېږي چې خپل محصولات په بېره او په ټیټه بیه وپلوري، یا یې آن ضایع کړي. همدې اړتیا د سړو خونو د جوړولو ارزښت لا زیات کړی دی.

د سړو خونو له لارې د محصول د ساتنې د مودې زیاتوالی دا امکان برابروي چې محصولات د حاصلاتو له موسم پرته په نورو فصلونو کې هم وپلورل شي او لړې پرتو سیمو ته ولېږدول شي. په دې توګه بزګران او باغداران کولی شي خپل محصولات په اوږده موده کې په مناسبه بیه بازار ته وړاندې کړي.

د افغانستان په څېر هېواد چې تازه یې د اقتصادي ودې لومړني ګامونه اوچت کړي او ډېری وګړي یې په ځانګړي ډول په لرې پرتو سیمو کې پر کرنه او باغداری مصروف دي، د سړو خونو جوړول د کرنیز تولید او اقتصادي ودې لپاره ډېر مهم دي.

د بزګرانو او باغدارانو د پلور د ځواک له زیاتېدو او د کرنیزو محصولاتو د ضایعاتو له کمېدو سره، د لا زیات او لوړ کیفیت تولید لپاره د هغوی لېوالتیا ډېرېږي. په دې توګه کرنه او باغداري وده کوي او په دې برخو کې نوښتونو ته لار هوارېږي. د کرنې پرمختګ د صادراتو د پراختیا، د کاري فرصتونو د زیاتېدو او د پانګونې د جذب له لارې د ځايي یا محلي اقتصاد په وده کې مهم رول لوبوي. همدارنګه، د سړو خونو جوړول پخپله هم د نويو کاري فرصتونو او پانګونو د رامنځته کېدو لامل ګرځي او پر ځايي اقتصاد څو برابره مثبته اغېزه لري.

په سړو خونو کې د تودوخې او رطوبت مناسب شرایط برابرېږي، چې د محصول د ساتنې موده له څو ورځو څخه تر څو میاشتو پورې اوږدوي. د کرنیزو ضایعاتو کمېدل د خوراکي توکو د موجودیت کچه لوړوي. د خوراکي توکو د

تولید له زیاتېدو سره بیې راټیټېږي او د پېر ځواک پیاوړی کېږي. د ارزانه او کافي خوراکي توکو شتون د فقر په کمېدو او د ټولنې د ټولو قشرونو لپاره د باکیفیته خوړو د لاسرسي په برخه کې مهم رول لري. دا ټول هغه عوامل دي چې د ټولنې د اقتصادي ودې سبب ګرځي.

## د سړو خونو د ایجاد لپاره د اسلامي امارت هڅې

د افغانستان اسلامي امارت د کرنیزو محصولاتو د خوندي ساتلو په موخه د هېواد په مختلفو سیمو او ولایتونو کې د سړو خونو جوړول پیل کړي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو له مخې، اوسمهال د دغه وزارت له لوري د هېواد په ۱۲ ولایتونو کې د ۱۴ سړو خونو د جوړېدو چارې روانې دي، چې هره خونه یې د ۱۵۰۰ او په مجموعي ډول د ۲۱ زره متریک ټنه ظرفیت لري. د دې ترڅنګ، د هېواد په شپږو زونونو کې هم د ۸ سړو خونو د جوړېدو چارې پیل شوې چې په مجموعي ډول ۵۰۰۰ متریک ټنه ظرفیت لري. د کرنې وزارت د معلوماتو پر اساس، په پام کې ده چې په راتلونکي کې په کابل او بلخ ولایتونو کې د چین له هېواد سره په ګډه د تازه میوو او سبزیجاتو د ساتلو لپاره ۳ سړې خونې جوړې شي، چې هره خونه به ۱۵۰۰ متریک ټنه ظرفیت ولري. د دغه وزارت مسوولین زیاتوي، چې د دې ترڅنګ د کرنې وزارت په پام کې لري، چې په کندوز، کندهار او بلخ ولایتونو کې د ۱۵۰۰ متریک ټنه په ظرفیت درې سړې خونې او همداراز په جوزجان، سرپل او کابل کې د سل متریک ټنه په ظرفیت هم درې سړې خونې جوړې کړي.

د کرنې وزارت د مسوولینو په خبره، له دې وړاندې د خصوصي او عامه سکتور له لوري د لسګونو سړو خونو د جوړېدو چارې بشپړې شوې دي، چې اوسمهال پکې بېلابېل کرنیز محصولات او تازه میوې ساتل کېږي.

له دې ورهاخوا د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له لوري د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې ته هم دنده سپارل شوې، څو د هېواد په مختلفو سیمو کې ټولې غیر فعالې امارتي سړې خونې بېرته فعالې کړي. دې کمېټې خپل کار پیل کړی او ژر ده چې د هېواد په مختلفو سیمو کې به غیر فعالې امارتي سړې خونې چې د سلګونو زره متریک ټنه ظرفیت لري، د خصوصي سکتور د پانګونې له لارې فعالې شي.

## پایله

سړې خونې د بزګرۍ، باغدارۍ او اقتصادي ودې د پیاوړتیا لپاره ډېر مهم ارزښت لري. د دې خونو پر مټ کرنیز محصولات په ځانګړي ډول تازه میوې د اوږد وخت لپاره ساتل کېږي، د ضایعاتو مخنیوی کوي او د محصول کیفیت ثابت پاتې کېږي. افغان بزګران او باغداران کولی شي خپل محصولات د حاصلاتو له موسم څخه پرته بل موسم ته هم وساتي او بیا یې د بازار له اړتیا سره سم وړاندې کړي، په مناسب وخت او ښه بیه یې وپلوري او له اقتصادي زیانونو ځان وساتي.

سړې خونې د محلي اقتصاد په پیاوړتیا کې هم مهم رول لري. د کرنیزو ضایعاتو مخنیوی کوي، د صادراتو په زیاتوالي کې خپل رول ادا کوي، د خوراکي توکو بیې ثابتې ساتي او د نویو کاري فرصتونو په رامنځته کېدو کې هم دغه خونې مؤثر رول لوبولی شي.

اسلامي امارت د سړو خونو د ایجاد لپاره اساسي هڅې پیل کړې دي، چې تر دې دمه د عامه او خصوصي سکتور له لوري لسګونو سړې خونې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې، د لسګونو نورو د جوړېدو چارې په چټکۍ سره روانې دي او همداراز د ډېرې سړوخونو د بیا فعالېدو لپاره هم د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې هڅې پیل کړې دي.

د دې سړو خونو د چارو په بشپړېدو سره به د بزګرانو او باغدارانو ستونزې تر ډېره حده راکمې شي، محصولات به یې په ښه ډول وساتل شي، بازار به ثابت حالت غوره کړي او په ټوله کې به د هېواد اقتصاد ورسره وده وکړي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېر | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋٦٦,١٠ | ؋٦٦,١٥ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۲۷ | ؋۲۲۷ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۰,٤۸ | ؋۰,٤۹ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷۷,۸۳ | ؋۷۷,۸۹ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸٤ | ؋۰,۸٤ |

| اندازه | پولي واحد | پېر | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۳٦ | ؋۷۳٦ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۸۹,۲۱ | ؋۸۹,۲۷ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۷,٦۲ | ؋۱۷,٦٤ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۸,۰۰ | ؋۱۸,۰۱ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,٤۰ | ؋۹,٤۱ |

